انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۱۱/۰۴

# افسوس

زه افسوس نه کوم له دی کبله
چي می له ژونده ورکه شوی رڼا
چی ښکلا لاړه د ځوانی ښکلا
چی د ژوند ډیر کلونه
په بی غوری په ناپوهی کی تیر شوی
یا می د نس د مړیدلو په پار
د چا پردیو مزدورۍ وکړله
یامی د یار په توګه
تاسر شپې په غرو کی تیرې کړې.
زما په ځان باندی افسوس راځی
او زه افسوس کوم له دی کبله
چی نه پردي وي خو ما خپل ګڼلی
د اغز بوټی وی ما ګل ګڼلی.
ماته افسوس په دی خپل راځي
چی د بل زړه په پیژندو کی ډیر کمزوری دی.
ماته په خپل عقل افسوس راځی
چی له پرون یی څه زده کړی نه دي
او د سبا په هکله
په څه شی نه پوهیږی.



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره ، دلته کلیک وکړی